د پرچم شهادت اسلامی بیا تعمیم
تا بر سر مردم کوښ باشید ځیابی جهاد تعلیم الله شرکه کونه باشید

(٤) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (١١١٤) سال شانزدهم -شماره (١١) پنجشنبه (١٦)
حمل ١٣٧٥ هـ ش (١٦) ذی القعده ١٤١٦ هـ ق (٤) اپریل ١٩٩٦ م

ای خلکو ! تاسی ته ستاسی د رب له لوری نصحیت راغلی دی ، داغه شی دی چې د زړونو د ناروغیو شفا ده او هغوی چې هغه ومني د هغوی لپاره هدایت او رحمت دی.
ای پیغمبره ووایه چې دا د الله فضل او د هغه مهربانی ده چې دا یې راستوه ، پدی باندی خو باید خلک خوشحالی وکړی ، دا له هغو ټولو شیانو څخه ډیر غوره دی چې خلک یې راټولوی.
(یونس ٥٧ - ٥٨)

وروړ حکمتیار پروون د کنړ ، ننګرهار او لغمان ولایت له پوښمیر سپین ږیرو سره وکتل

لغمان - دوری ١٥ مه :
نن ترغرمي وروسته دحزب اسلامي افغانستان امیر وروړ حکمتیار دکنړونو دولایت لـه پوښمیر سپین ږیرو ،عالمانو اوقوماندانانو سره وکتل .

له مهتم لام څخه دحزب اسلامي دسکرتریت یوي منبع شهادت ته په خپل مخابروي رپوټ کي وویل : په دغه کتنه کي دمرلوي عبدالله ، استادسیدجان دکنړولایت دڅلورمي حوزي مسئول ، استادمحمد عبدالله دشپگل دجبهي مسئول، سیدامین دمروري دجبهي مسئول ،حاجي خان جان ددان گام دجبهي مسئول، حاجي خان ولي دکنړدلمي حوزي مسئول، مولوي گل رحمن دکنړدوهمي حوزي مسئول، حاجي عبدالرحمن دکنړولایت ددریمي حوزي مسئول، قوماندان گلاب دکنړونو دفرقي قوماندان، قوماندان نقیب، قوماندان سیداصغر ، انجنیرمحمدامین ،مدیرمیرزمان، قوماندان علم خان، اوحاجي سراج په گډون دنوموړي ولایت دشپیتو(٦٠) تنو په شاوخواکي عالمانو اوسپین ږیروگډون کړي و .

په دغه ملاقات کي لوموړي دحزب اسلامي امیر وروړ حکمتیار دهیواد دروانوحالاتو په هکله رڼاواچوله اونوموړو سپین ږیرو اوعالمانو ته ئي دحزب اسلامي افغانستان دریځ ترگندکړ.
دریوټ په اساس دکتني په وروستي برخه کي گډون کوونکوخپل قوم او مجاهدینو
(٤)مخ

تازمانیکه پول افغاني پشتوانه بانکي پیدا نه کند ارزش لازم پیدا نخواهد کرد

یکي از عوامل کاهش ارزش پول افغاني چاپ نمودن بي حدوحصر آنست

کابل - ١٥ حمل :
اداره کابل براي جلوگیري ازکاهش بیش ازحد ارزش پول افغاني درمقابل اسعارخارجي بخصوص دالر وبخاطر تقویت اقتصادافغانستان جلسه اضطراري دایرنموده واین موضوع را تحت غورویررسي جدي قرارداد .
خبرگزاري فرانس پرس به نقل از حمیدالله «طرزي» یکتن ازاقتصاددانان افغانستان گزارش دادکه پائین آمدن بیش ازحد پول افغاني دربرابر اسعارخارجي،
ص(٤)

په کندهارکي دطالبانو غونډي له استاد رباني څخه د قدرت دپریښودو غوښتنه وکړه

دښحوتعلیم اوځینی نورمسایل دمرکزی حکومت ترجوړښت پوری معطل شوی

(١٥٠٠) تنو گډون کوونکو له ملامحمد عمر اخند سره د امیرالمومنین په توگه بیعت وکړ

دټولو ملیتونو دحقه حقوقو څخه ددفاع پریکړه ، قومی ، لسانی اوتنظیمی تعصبونه محکوم شول

کندهار - دحمل ١٥ مه :
په کندهارکي دطالبانو دغورځنگ له خوادعالمانو جوړه کړاي شوي غونډه چي دتیري ٥ شنبي په ورځ پرانیستل شوه ، دیوي (٩) ماده ایزي قطعنامي په صادرولو سره پاي ته ورسیده .
دخبري منابعو دریوټ په اساس ویل کیږي، په دي غونډه کښي چي څه دپاسه (١٥٠٠) تنه عالمانو پکي گډون کړي وو، استادرباني واجب العزل وگڼل شو. او له هغه نه دقــدرت دپریښودو غوښتنه وشوه .
ریوټ وايي دغونډي قطعنامه چي نه مادیي لري دطالبانو تحریك دمهم غړي ملااحسان الله له خوا پـه پښتوولوستل شوه چي وروسته بیا په دري، اوبلوچي ژبوهم دهغي ژباړه قرائت شوه .
همدارنگه په ریوټ کي ویل شوي چي نه ملامحمدعمر آخندتر یوه ساعت نه زیات وخــت ولایوو او دگـــډون کوونکوله خوا ورسره بیعت گیده .
دطالبانو غورځنگ ددي غونډي په اعلامیه کي داسي راغلي دي .
١ - د«معزول » او «واجب العزل» رباني پرخلاف دټولو علماوو په خوله دملت داوروستي غړکوو چي قدرت دي پریږدي .
٢ - مونږعلمــا چي شمیر مو (١٥٠٠) ته رسیږي لـه امیرالمومنین
(٤)مخ

دکابل ښار داستوگني په سیمو د(١٢) توغندیو بریدونه وشو

ددي برید له امله یو تن مړ او ینځه نورسخت ټپیان شول

کابل - دوري ١٥ مه :
دکابل په ښاريانډي د١٢ توغندیو حمله وشوه .
دکابل له ښارڅخه ته په رارسیدلو وروستیو ریوټونو کي ویل کیږي چي : دورمي شپي په اوږدو اوږدون دکابل ښار داستوگني پرسیموباندي د١٢ توغندیو حمله وشوه ، چي ددغو ویشتل شویو توغندیو دلگیدو له امله یوتن کابل ښاري
(٤)مخ

یوتن دکورني شخړي له امله ووژل شو

جلال آباد - دوري ١٥ مه :
دکورني شخړي له امله یوتن خپل ځان وژلي دي .
دجلال آباد لـه ښار څخه دشهادت خبریال خبرراکوي چي : دجلال آباد دښاردریك شاه محمودخان په سیمه کي استوگن دمیامیرحسن زوي میرولي چي اصلاً دلغمان ؤ دکورني شخړي له امله خپل ځان په خپله وسله ویشتلي اووژلي دي .

مذاکرات حزب اسلامی با اداره کابل گام مثبت در راه استقرار صلح توصیف شد

شرایط منطقوی ، استقرار صلح سراسری در افغانستان را ایجاب می کند

تهران - ١٥ حمل :
تلاش هاي صلحجویانه در داخل افغانستان ومذاکرات بین الافغاني میان تنظیم هاي مختلف افغان، امیدهاي تازه رابراي پایان یافتن جنگ وخونریزي درافغانستان بارآورده است .
شوراي جهادي ننگرهار براي تشکیل اجلاس رهبران افغان درجلال آباد آمادگي گرفته و سعي مي ورزد باشرکت رهبران تنظیم هاي جهادي کنفرانس صلح را درین شهردایرنمایند، که این امربراي برقراري صلح وامنیت درافغانستان کمك خواهد کرد .
رادیوتهران ضمن تبصره روي این موضوع باتذکر مطالب" فوق برمذاکرات وگفتگوهاي حزب اسلامي بااداره کابل اشاره نموده درحالیکه نتایج این نشست
ص(٤)

کاروان موترهاي امریکایي حامل مهمات درچمن وهلمند مشاهده شده است

طالبان دریافت هرگونه کمك خارجي راتکذیب کرد

هلمند - ١٥ حمل :
به گفته منابع افغاني کاروان کمك هاي نظامي وتسلیحاتي امریکاباموتر هاي امریکائي از طـریـق کوئته عازم قندهار هستند .
درگـزارش رادیـوي ایران به نقل ازروزنامه قدس گفته شده که منابع محلي افغاني که شاهد حرکت وحفاظت موترهاي امـریکائي درولایت هلمند بودند اظهارمیدارند سلاح ها و مهمات امریکائي رادرمنطقه چمن نیز مشاهده کرده اند .
رادیوایران درین گزارش افزود گزارشهاي قبلي حضورمستشاران خارجي ازجمله امریکائي هارا درقرارگاه هاومراکز گروه طالبان تائید میکند وایالت بلوچستان پاکستان یکي ازمراکز سلاح ومهمات امـریـکائي براي طالبان خوانده شده است .
قراراین گزارش گـروه طالبان ما،
ص(٤)

پاکستان به دریافت برخی اسلحه ایکه قبلاً از امریکا خریداری نموده،کم علاقه شده است

اسلام آباد - ١٥ حمل :
پاکستان توضیح داده تنهااسلحه ایکه طبق ترمیم (براون) به ارزش بیـش از (٣٦٨) ملیون دالر ازامریکا خریداري نموده به اسلام آباد تحویل گردد .
منابع آگاه وزارت دفاع پاکستان اظهار داشته اند، ارزش واهمیت برخي این سلاح ها که درسال (١٩٩٠) عیسوي خریداري شده ازبین رفته طوري که این اسلحه براي ده سال استفاده مي شود اماحالا چهارسال از وقت آن سپري شده واسلام آباد حاضربه اخذ آن نمي باشد .
به همین سلسله یك هیئت پاکستاني غرض بررسي موضوع وارد واشنگتن شده و بامقامات امـریـکایي دیـدار وگفتگومي نماید .
منابع تذکر داده اند درجمله اسلحه خریده شده راکت هایي وجود دارد که چهارسال قبل ساخته شده وتقریباً نصف مدت آن گذشته وبراي طیارات (P.C.3) قابل استفاده نیست .
هیئت مذکور درمورد بازپس گیري مبلغ (١٧٥) ملیون دالر ازجمله پولي که قبلاً به امریکاتحویل داده شده ، نیز مذاکره خواهد کرد زیرا پاکستان خواهان پرداخت این مبلغ ازامریکامي باشد .
همچنان پاکستان دراجلاس دو روزه
ص(٤)

دتیري اوني په ترځ کي (١٣٥٠) مهاجري کورني کابل ته ستني شوي دي

په همدي موده کي دسوداگرو اوخیریه موسسو لـه خوا نه ٤٠٧٠٢ تنه خوراکي اودسونگ مواد هم کابل ته رسیدلي دي

کابل - دوري ١٥ مه :
کابل ښارته دمهاجرینو دبیرته ستنیدو بهیرروان دي .
دکابل راډیو دریوټ پـه حواله ویل کیږي چي : دروان کال دوري دمیاشتي دڅلورمي نیټي تـه تریوولسمي نیټي پوري (٣٥١٠) مهاجري کورني چي (٢٠٥٥٠٣) تنه کیږي دکابل - جلال آباد دلوي لاري څخه کابل ته ستانه شوي اودکابل ښارپه بیلابیلو ناحیوکي ځاي پرځاي اومیشته شوي دي اوپه مقابل کي ١٤٣٢ کورني چي (٨٥٥٨٠) تنه کیږي دکابل ښارنه دختیځو ولایتونواوپیښور ښارته تللي دي .
ریوټ زیاتوي چي : په همدي موده کي (٣٠٠٠٠) تنه خوراکي اودسونگ مواد دسوداگرواوخصوصي متشبثینو له
(٤)مخ

سرایوو: کتمان پسر (١٢) ساله بوسنیایي ازمیله توپ تانك تخریب شده (تي ٥٤) روسي مستقر درنزدیکي گراږیکا سرایوو، خود رااویزان نموده است .
این شهر که در جریان چهارسال جنگ در اشغال صربها درآمد ، دوهفته قبل تحت کنترول فدراسیون مسلمان کروات بوسنیا قرارگرفت صربها قبل ازترك نمودن شهر اکثرساختمان ها را ویران نموده واموال مردم رابه غارت برده اند.

دکجل برج په سیمه کي دگرځنده گزمي له خوا:

دوه تنه لاروهونکي وژل شوي او دوه نور سخت ټپیان شوي دي

جلال آباد - دوري ١٥ مه :
دیوي گرځنده گزمي لخوا دوه تنه لاره وهونکي وژل شوي اودوه تنه نورسخت ټپیان شول .
دجلال آباد لـه ښارڅخه دشهادت خبریال خبرراکوي چي : دننگرهار دولایت دخوگیانیو دولسوالي دملکي دخوارانو دکجل برج په سیمه کي څلور تنه لاره وهونکي څه چي دغلا په نیت همدي
(٤)مخ

انفجار یك ماین طفل (١١) ساله رامجروح ساخت

شیوه - ١٥ حمل :
به اثرانفجار یك ماین درولسوالي شیوه ولایت ننگرهاریك تــن جراحت برداشت .
خبرنگار شهادت ازشهرجلال آباد
ص(٤)

سنگ تهداب یك محراب مسجد عیدگاه درولایت سمنگان گذاشته شد

سمنگان - ١٥ حمل :
سنگ تهداب یك محراب مسجد عیدگاه درمنطقه کارته خراسان ولایت سمنگان گذاشته شد .
خبرنگارشهادت ازولایت سمنگان
ص(٤)

دوماین ضد وسایط نقلیه در ولسوالي رودات کشف وخنثي شد

رودات - ١٥ حمل :
درولسوالي رودات ولایت ننگرهاردوماین ضدوسایط نقلیه کشف وخنثي گردید .
خبرنگارشهادت ازشهرجلال آباد گزارش میدهد روز گذشته ازسوي افراد ناشناس درمقابل مقرولسوالي رودات دوماین ضدوسایط نقلیه درسرك جابجا شده بود
ص(٤)

درگیری درچیچن وسعت وشدت گرفت

درجریان هفته جاری (١٥٠) تانك ونفربرروسیه منهدم گردیده است

اهالی بی دفاع به مناطق امن پناه می برند

گروزني :
جوهردودایف رهبرمبارزان چیچن روزدوشنبه به خبرنگاران گفت : مذاکرات باروسیه تنها بعدازخروج سربازان روسي ازچیچن امکان پذیراست .
به گزارش خبرگزاري « اي . اف . پي » جوهردودایف که با « توران » خبرگزاري رسمي آذربایجان صحبت مي کرد بصورت مشخص پیشنهاد بوریس یلتسن رئیس جمهور روسیه را ردنکرد .
یلتسن روز شنبه پیشنهادنموده بودکه روسیه حاضر است بامیانجیگري جانب سوم بامبارزان چیچن مذاکره نماید.
جوهردودایف تاکید نمودکه مذاکرات میان سران مسکو ومبارزان چیچن آنگاه صورت خواهد گرفت که عملیات نظامي نظامیان روسیه درین جمهوري متوقف گردد ونیروهاي خارجي از قلمرو چیچن بیرون شوند .
دودایف گفت « ماواقعیت گراهستیم ومتیقنیم که سران مسکوهیچگاه به انجام مذاکرات واقعي حاضرنمیشوند . افراد یلتسن میخواهند که ماپیمان تسلیمي خودرا امضا کنیم »
وي گفت یلتسن اعلان داشت کـه روزسـه شنبه ساعـت دوبجه به وقت گرینویچ عملیـات نظامي درچیچن متوقف مي شود امابرخلاف درمناطق جنگي هنوز نشانه اي ازآتش بس دیده
ص(٤)

طیاره حامل " براون " وزیرتجارت امریکاسقوط کرد

مقامات امریکایي میگویند هواپیماي حامل ران براون وزیرتجارت امریکاکه ازتوزلا دربوسنیا هرزگوینا بسوي شهر دوبرونیك درکرواسي پروازمیکرد سقوط کرده است .
به گزارش رادیوي امریکا حاپك ملك کوري سخنگوي قصر سفید میگوید لاشه یك طیاره دردریاي ادریاتیك کشف شده است اماهنوز نمیتوان تایید کرد که لاشه طیاره حامل براون است . وي گفت حدود پانزده نفر بابراون بودندکه باطیاره نظامي نوع جت بوینگ ٧٣ پروازمیکردند .
طیارات وکشتي هاي گزمه به جستجو درمنطقهٔ سقوط مشغول اند رئیس
ص(٤)

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس: انجنیرحکمتیار
ناشر: ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر: محمد نذیره بشارت،
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون: ٢٥٦٣٧٨٩
آدرس پستی: ١٠٣٦ یونیورستی تاون -پشاور

دکندهار دغونډی پریکړه

پرون په کندهارکي دطالبانو ورغوښتل شوي غونډه پاي ته ورسيده . طالبانوچي له خپل ظهورنه تراوسه پوري دافغانستان دبحران دحل په باره کي کوم چال چلن اوروش غوره کړي، دهغه په پام کي نيولو سره ،داپيشبيني کول ګرانه نه وه چي له نوموړي غونډي څخه به کومه فوق العاده نتيجه راونه وځي .

داسي نتيجه چي په هغي کي دي ، يوه نوي موضوع، نوي پيام اونوي اميدوي .

داسي نتيجه چـي هغـه دي د بحران دحل په لوري يواځکاروګټل شي اودمشکلاتو داسانولو په لارکي دي يوتحول ويلل شي، ددي روحيه دي پکي ځرګنده شي چي ګني طالبانو دافغانستان واقعـيتونـه ژور څـيړلي، داوضاع نازکتوب اوخطرناکوالي ئي په پام کي نيولي اودي ته متوجه شوي چي نورنه په دي ولس کي اونه په دي هيواد کي ددي شيمه پاتي ده ، چي لانورئي هم په زخمي جسدونيباندي دڅشري سليقو، شخصي هوسونواواقتدارغوښتني دشوقونواسونه وځغلي .

همداراز ددي توقع ډيره نه کيده چي ګني طالبان به پريکړه وکړي چي نوربس دي په دي قوم رحم پکاردي، اخير ترڅويه دمحشرعذابونوته دورته کړاوونو پـه اورکي ترکيږي اودآواز داوريدو به ئي څوك نه وي ؟ د مصيبتونو اوفاجعو په ګرداب کي به ډوبيږي خودلاس نيولو به ئي څوك نه وي ؟

پرديوبه ئي په هيواد کي دبي خاونده جايداد په څير لاس اچولي وي خودپوښتني به ئي څوك نه وي ؟

له دي غونډي نه ددي شيانو توقع نه کيده ، اوله طالبانوبه ملت خودهم نه کوله، څکه دملـت پـه دي توقع اواسره هغوکسانوهم خاوري وايرولي چي داسلام د علمبرداري چيغوئي دنياپه سراخيستي وه ، داسلامي سازماندهي، مبارزي، سياسي تدبر،تجربي ، کفايت ارظرفيت لوړي دعوي کوي . په هرحال ددي تولو له منځ نه په کم احتمال سره ددي تصور کيده چي شايد طالبان دتيرېوه کال تجربو په دي پوه کړي وي چي دوي، په يواځي ځان قضيه نشي اوارولي ، دوي دملت ارزوګاني دخوباتکونو په لري کولو نشي پوره کولي، دوي په وينوياندي دوينو داغونه نشي پاکولي ،دوي ديوه قشر په وجودکي دملت دسرنوشت موضوع نشي ځايولاي، دوي په هيڅ نوم اوعنوان دجګړي داادامي لپاره توجيه اودليل نشي موندلي اوبالاخره ددي رواني لويي ادامه ترټولو زياته ددوي لپاره دخساري اوتاوان لويه ده .

مګراوس چي دطالبانودغونډي کومه پريکړه وشوه، که ئي عمومي اوکليشه ئي خبري پريږدو په هغي ددي هيڅ نښه نه ليدله کيږي ، چي دي ټکيو ته توجه شوي وي . له دي به ورتيرشوچي دپريکړي متن دمسايلو دافاده کولو، دموضوعاتو داهميت دپه ګوتـه کولـو ، دموضوعاتو دارتباط اومنطقي پرله پسي توب ، داصطلاحاتو داستعمال او .... لـه مخي څومره نيمګړتياوي لري ، واقعيت دادي چي هيڅ نوي خبره ، نوي دريځ اونوي ميلان پکي نشته ، نه داچي ملت ته پکي ددي اميدنشته چي طالبان دهيواد دبحران حل دخپل سياست دسرتکي ګڼي، نه داچي دسولي دټولودقناعت اودټولو دخوښي دتحقق لپاره دطالبانو درجحان رنګ پکي نشته ،بلکي خبره نوره هم خرابه شوي ده ، څکه دپريکړي صريح مفهوم پوانحصاردي ، دټولو دحق ،اهميت ، نقش اوپرستيژ نفي ده ، دزورإعمال دڅ، دجګړي ادامه ده ، اودهرراز تفاهم دروش ردول دي .

دطالبانو مشران بايد متوجه واي چي دازمويل شويو ناکامو نسخواو نامرادو تجربو ازمويل ، څومره لويه غلطي اوپه اصطلاح د«خپل بخت په لغته وهل دي»

دهیواد ګړندی سیاسی تحولات، نتایج اومسؤلیتونه

الف : دطالبانو لخوا دجنګ اعلان او دنورواتحادونـو جوړښت

محمودالرحمن "یاسر" — **لومړی برخه**

په داسي حـال کې چې دطالبانو په مرکز دقندهار پـه جارکي دطالبانو ځوا بوزيات شمېر علماء راغوندکړل شوي ترڅو دطالبانو دغورزنګ پـه راتلونکو پاليسيو غوروکړي اودطالبانو د مشرليتو په قول، هغوي ته دراتلونکو خونړيو جنګونو دپيل کولو پـه خاطر فتوي ورکړي . ددغې غونډې منسوبينو چې تراوسه پوري په غونډه کښې کومې خبرې کړې او دهغې راپوروونه داطـلاعاتي جمعي وسايلو ځراخپاره شوي په توليزکې دي لوري ته پوره اشاره شوي چې دهيواد اوسني بحران دجنګ پرته نـه حل کيږي اوداچې استادرباني او دهغې نظامي ځواکمن احمدشاه مسعود بايد دزورله لاري دقدرت څخه راښکته کـړل شي ترڅو ددوي «دخوښې اوفکر» اسلامي نظام جوړښت ته لاره هواره شي . ددي ترڅنګ طالبانو په دي ورځو کـې دمحسني دتنظيم يوه قوماندان داکترصادق مدير اوهم دحزب وحدت سـره داستادرباني په خلاف دمشترکي نظـامي جبهي دجوړښت اعلان هم وکړ .

طالبانودخپل تحريك دپيدايښت يعني يوکال څخه راپدېخوا، داوسني پاليسي

> دبل لوري طالبانو خـپل پخواني اعتماد دلاسه ورکړي ، قوماندانان هم پري هغسي يقين لکه پخواني چې پري درلود نـه لـري . څکه چې دغه قوماندانان دهغو قوماندانانو دبرخليك څخه ښه خبردي چې خپل ولايت ئې پـه دواړو لاسوطالبانوته تسليم کړ خوطالبانو هغه په پـوره توهين سره رخصت کړل اوهلته ئې خـپل حاکميت پيل کـړ .

پرخـلاف د سولي او امن پاليسي درلوده . شعارئي دا و چې غـورزنـګ ئې دامربالمعروف او نهي عن المنکر تحريك دي . غوښتل ئې دپاټکونودختمولو په خاطر چې دمظلوم ولـس د ازار سبب ګرځي جهادوکړي، وروسته ئې څه موفقيتونه ترلاسه کړل . حزب اسلامي افغانستان په سرحدي غونډونو ئې په سپينوکاليو او لنګوټيوکي دپوره اعتماد په فضأ کي پرغل يوړ . نه يواځي وسايل ئې چورکړل بلکه دمبارز غونډ په کتابخانه کي ئې دتفهيم القرآن سـره اوهمدارازدنورو اسلامي کتابونو سره چې ددوي په مزاج برابرنه وهم ناروا سلوك وکـړ . او په دي ترتيب ئې دپاټکونوتحريك دبې وسلي کولو په تحريك تبديل کـړ . او اوس دبې وسلي کولو تحريك ئې ديوه جنګي نظامي ځواك پـه څېـر د سولي اوامن پرځاي دجنګ او جدل لوري ته خوځرلي

که څه هم په دي هکله پخوا تفصيلي بحث اوڅېړنه دشهادت دلوستونکوترمخ ايښودل شوي اوپه هغې کې په دې خبري ترکيز شوي چې کـه طالبانوغوښتل دهيوادوالو داعتـماد او احساسـاتو په څپوسپاره کابل ته ورسيږي خوصحيح ، مګرکه ځواړي دجنګ اوجدل له لاري دغه اهداف ترلاسه کړي نوډيره اشتباه ئې کړي اودايه دي خاطرچې هغه وضعه چې دکابل حاکمه اداره ورسره هغه وخت مخ و دطالبانو په همکاري په هماغه وخت کي ډيره ژربدليدای شـوه . خواوس به ددي وضعي بدلون دوېرو ککړيو په هواريدو ترسره کېږي . اوفکرنه کوم چې هېڅ عالم ،ملا، طالب اوياملتي به دداډول وينې توئېدو اجازه ورکړي .

ممکن طالبان اويائې دوستان په همدغه نقطه حزب اسلامي او يادهماهنګي عالي شورا هم متهمه کړي چې تاسي بياولې نژدي دوه کاله دکابل ښاردجنګ داور په لمبوکي رانغښتي ؟! اوداډول سوالونه دهغوي طبيعي حـق هم دي خودحزب اسـلامي ديوه داسي کارکن په حيث چې تل داموراتوسره ډېرنژدي پاته شوي يم بايد داواضح کړم چې په کابل باندېي به دجنګ کولو اوياحملي په هکله هيڅکله هم دحزب اسلامي دنظامي قوماندانانو ځوا داسي اعلان نه وي شوي اونه دجنګ آغاز اوپيل ددي اړخه صورت نيولي . د هيواد ددغه داخلي ناخوالو جنګونوتاريخ ددي شاهدي ورکوي چې دحزب اسلامي ځواکونه تل دمخالف لوري دځواکونو دتيري لاندي واقع شوي اوبيا دحزب اسلامي نظامي ځواکونودخپلي دفـاع پـه خاطر چې بوديني حق ئې دي اقـدام کړي . دغه دفاعي اقدام په دي خاطر شرعي اوحقوقي وجې دين ئې حکم ورکړي . دبلې خوانه دنجيب دراپرزېدو وروسته کله چې داسلامي دولت ترنامه لاندي يونظام منځ ته راغې پـه هغه نظام کي کمونستانو ډيرزيات فعـال رول درلود اوهدف ئې داوچې مجاهدين تنظيمونه پـه خپلو مېنځوکي سـره اخته کړي اوپه يوه اوږداوطويل داخلي جنګ کي ئې داسي راملوث کړي چې بيائي ترې دخلاصي امکان نه وي . پـه همدي خاطر هغوي دجهادي تنظيمونوترمنځ دبي اعتمادي دزياترلو او ددي بې اعتمادۍ څخه داستفادې پـه خاطرئې ددوي ترمنځ دخپلوشبکو لـه لاري دجنګ اوربلاوړاو ددغه اوردلمبوپه زياتيدلو کي به ئې دکتلـت رول لوباوه چې بالاخره حالات داسي لوري ته ولاړل اوډېري نوي پديدې ئې وزيږولي چې يوهمدغه پديدو څخه دطالبانو غورزنګ هم دي .

امااوس حالاتوپوره تغيرکړي . يواځې هغه څه چې اوس ورته اړتيا ده هغه دخپل منځي تفاهم له لاري ديوي داسي اداري جوړښت دي چې په اصولو ولاړه وي . مونږ په هغه وخت کي هم داستاد رباني په خلاف ددفاع خپل حق ديوه اصولي نظام دجوړښت په خاطر استعمال کړي . نه دعقيدوي مسايلو په خاطر . مونږ اوس هم که داستادرباني مخالفت کوو دهمدغې اصولو په خاطر دي . نه دعقيدوي په خاطر. زمونږ ارزوهغه وخت هم همدغه وه اواوس هم همدغه وه چې په هيواد کي داسي يوموقت نظام جوړشي چې ټولو مجاهدينوته دمنلووړوي . ددفاع دوزارت کارونه ديوه تنظيم اويوه قوماندان پرځاي اسلامي اردوته وسپارل شي اودهغې اردو اساسات ديوه منل شوي کميسيون ځواجوړشي . درني وسلي دموقت حکومت دبااختياره کميسيون ځوا راټولي کړي شي . دکابل دبارانيټ دګډو ګوځونو ځوا

> طالبانودخپل تحريك دپيدايښت يعني يوکال څخه راپدېخوا، داوسني پاليسي پرخـلاف د سولي او امن پاليسي درلوده . شعارئي دا و چې غـورزنـګ ئې دامربالمعروف او نهي عن المنکر تحريك دي . غوښتل ئې دپاټکونودختمولو په خاطر چې دمظلوم ولـس د ازار سبب ګرځي جهادوکړي، وروسته ئې څه موفقيتونه ترلاسه کړل . دحزب اسلامي افغانستان په سرحدي غونډونو ئې په سپينوکاليو او لنګوټيوکي دپوره اعتماد په قضأ کي پرغل يوړ . نه يواځي وسايل ئې چورکړل بلکه دمبارز غونډ په کتابخانه کي ئې دتفهيم القـرآن سـره اوهمدارازدنورو اسلامي کتابونو سره چې ددوي په مزاج برابرنه وهم ناروا سلوك وکـړ . او په دي ترتيب ئې دپاټکونوتحريك دبې وسلي کولو په تحريك تبديل کـړ .

تأمين شي او موقـت حکومت دخپلي ټاکلي شوي مودې پـه منځ کي دعمومي انتخاباتو له لوري جوړشوي منتخب حکومت تـه قـدرت انتقال کړي . که دعمومي انتخاباتو لـه لاري د قدرت دانتقال له پاره زمينه برابره نه شي نوبايد چې دهغې موقتي مودې دپوره کېدو سمدستي وروسته اقتدار داسي يوه شخص ته چې دپخوانو پري توافق شوي وي انتقال شي .

زمونږ مخالفت دمخالفت اواقتدار په خاطر نه هغه وخت واو نه اوس دي، بلکه زمونږ دمخالفت عمده دليل داوچې که همدااوس مونږ وته توانيږو خپل مجاهد ولس ته چې دمهاجرينو انسانانو په قرباني ئې دغه ازادي ترلاسه کړي دخپلي خوښي ديوه اصولي حکومت داانتخاب حق ورنکړاي شو او د سـازش اوزور له لاري دقدرت په غصب اصـرار وکړو اوورته تسليم شو نوبيه راتلونکي که به مودخپل ولس سره ډېر خيانت کړي وي . په دي اساس حزب اسلامي ديوه غښتلي نظامي سياسي ځواك پـه څېر دتاريخ دسختو طوفـونو مقابله يـه يواځې ځان وکړي . داسي طوفانونه چې کـه دحزب اسلامي دنظامي ځواکونو مقاومت اوقيادت پراخه حوصله اوتدبير اوپه الله (ج) باندي تکيه نه واي نو دهيڅاوهم اوګمان کي هم نه وچي دا حزب به څونوري شيبي هم ژوندي پاته شي. په دي اساس افغان ولس به په خپل دغه اسـلامي تنظيم باندي حتماً فخرکوي چې دهغه دمقاومت په نتيجه کي داستعمارژول شوم پلانونه چې غوښتل ئې جهـاد او جهادي تنظيمونه پوځل پيادهغوی پـه لنډکي سقـوط وکړي اودمحوي اوناپودي سره مخ شي پوره ناکام کړل .

نه يواځې ناکام بلکه ددغه مقاومت په نتيجه کـي هغـه کفري ځواکونه چې دشهيد پالونکي قهـرمان افغانستان دبيا حکمراني اوددي هـيواد د مجاهـدينو دمدبرليډرشپ دختمولو خوبونه ئې ليدل دهيواد څخه تېښتي ته مجبورشول . دهغوي اثرورسوخ په دولتي ادارو او نظامي ځواکونو کي مخ په کمېدت شو او بالاخره دکابل حاکم نظام دادرك کړه چې نشي کولاي پـه زوردغه زړه وروولس دخپلي ولکي لاندي راولي . خو متأسفانه دامن دغه پرېشوېرڅل بيا دغه غمناکي وضعي ته ديوه کال نه زيات دژوند ساه ورکړه .

اوس طالبان دهغې وخت نه په بدتر حالت کي قرارلري . او ډيره بده داده چې هغوي ديدنه بدترته لاس اچولي . داستاد رباني دقدرت دحاتي په خاطرئي دجنګ اعلان کړي . او په دي هکله دخپلو علمأو څخه چې پوهخت ئې په خپل تحريك کي نه پرېښودل دبي ګناه انسانانو دوژلو فتوي اخـلي . خـو طالبانوته به دا ډيره ګرانه وي چې دمسلمان ولس په خلاف دوينوتوئيدو لارخپله کړي، داسي لارچې ټول ولس ورته دنفرت په سترګوګوري اوداسي لارچې هيڅ نتيجه به پري منتج هم نه شي . څکـه چې طالبان هم غواړي کابل په يواځې ځان کنټرول کړي، هغوي هم داوسني نظام پـه څېر غواړي واکمني خپل ځانته منحصر، کړي لکه څنګه ئې چې په نورو ولايتونوکي کړي .

دبل لوري طالبانو خپل پخواني اعتماد دلاسه ورکړي ، قوماندانان هم پري هغسي يقين لکه پخواني چې پري درلود نه لري . څکه چې دغه قوماندانان دهغو قوماندانانو دبرخليك څخه ښه خبردي چې خپل ولايت ئې پـه دواړو لاسوطالبانوته تسليم کړ خوطالبانو هغه په پوره توهين سره رخصت کړل اوهلته ئې خپل حاکميت پيل کـړ . ددي خبري يوروښانه مثال دمولوي جلال الدين حقاني دي . که څه هم حقاني صاحب دطالبانو غونډي ته په خپل ليږلي پيغام کي داوسني وضعي د حاکميت مسؤليـت دمجاهدينو او کمونستانو پـه ائتلاف، اوقدرت طلبي وراچولي خوداچې پخپله حقاني صاحب ددي وضعي په حاکميت کې دلړي وخت څخه تراوسه پوري څومره منفي اومثبت پلټونکي شخص رول اوبولي ټپولوته معلوم دي نه غواړو دلته پري تبصره وکړو خوپخپله مولـوي صاحب حقاني چې دپکتيا پريوي برخي ئې پوره حاکميت درلود دطالبانويه ورتـګ نشي خپله شخصي کوټه هم دلاسه ورکړه . پـه دي اساس طالبانو خپل پخواني اعتماد دخپلودغه کړنو په واسطه بايللودي دي، دبل لوري دهغوي ورځني اعمال اودکابل په ښاربانودېړندوراکټونو وشتل هم هغوي دسوال لاندي راولي .

(نور بيا)

جنګی مجرمان!

مغموم

دپاکـستان يوې مشهورې ورځپاڼې « جنګ » د تيرې دوشنبې ورځې په ګڼه کې د کندهار د غونډې په را بطه يو خـبر دا درلود چې په دې غونډه کې دکابل اداري د مشر استاد رباني پر خلاف د « واجب القتل » په فتوې غور کيږي .

خو د طالبانو د يوه ځوړي معصوم افغاني له خولې ؤ ، دواجب القـتل فـتوی او د مرګونو او غاپيانه محاکمو اعلانونه زمونږ د هېواد په وروستيو دوو کلونو پو لـيږو کې ډېر رواج دی .له شرعی فتوی څخه د خپل مخالف پر خلاف هرچا په خپل خپل واړکار اخيستی،غاپيانه محاکمې ، دجنګي مجرم په نامه تورونه او واجب القتل بلل زموږ د تحريکونو ، ګوندونو او چار واکو پر عادت ګرځېدلی ،خو تر اوسه پورې چې په دې لړيه کې دزيان او تاوان خبره ده نو ټول روغ رمت، ګـرځي ،ټول جنګي مجرمان ! ټول واجب القتل بلل شوي او ټول دشرعي فتوې ګـانو تر تورونو لاندې روغ رمت دي ، همغسې په نشه کې دي او چې تاوان ورته رسيدلی دی نو فـتوی او شريعت سره بد سلوك شويدی ، له شريعت نه د يو ی تېرې چاړې کار اخيسـتل شوی دی چې هر چا يې د خپل مخالف په مرۍ د راکښلو هڅـه کېږی خو کله چې بيا د مخالفينو ګردلی ناستې دی دتورونو او تومتونوبريوکی غلی شوی دی ، دبېښتي اوتريګنی په دوستی او ملګری بدلی شوی دی ،بيا چاته نه شريعت ورپه ياد شوی دی او نه شرعي فتوی !

د طالبانو ادعا هم داده چې دکابل اداری مشر استاد رباني دمرګونواو وژنو سبب شوی دی څکه بايد واجب القتل وی.

اوس پوښتنه داده چې دا په شرعی فتوی وی او که دطالبانوکرامو يو سياسی حرکت اواعلان !

دا پوښتنه څکه پيدا کيږی چې که د وژنو او مرګونو خبره وی نو د هغه مثل په مصداق په دی حمام کی ټول لوڅ دي.

آخر د طالبانو نظر پرواژی په استاد غريب ولی وربرابرشو.

که دافغانانو دمرګونو پوښتنه کيږی بيا خودټولو وشی کـه دقاتل ګريوان ته لاس لوړيږی نو دهرقاتل ګريوان ته بايد ور واچول شي اودا څکه چې " شريعت " الهي حکم دی او هېڅوک يې هم په خپله خوښه او انتخاب نشي کارولی .

طالبان کرام دهغو وسلو وژلي وژلي

له تکبیره ترفریاده

بولی که نه چې د دوی له اورو بی خلك په وينو کی ولنبول !

هغه بيا دمان هم وژلی بولی چی د طالب د ترپك له شپېلی بی سينه سوری شوی !

د هغو نامعلومو الوتکو او راکټونو وژل شوی څه بولی چی کابل يې په کربلا بدل کړی ايا دهغو قاتلان واجب القتل نه دی ؟

او اوس خو چی زما دېوه فاضل دوست خبره دطالبانو ډېر پرهېزونه مات شويدی دا پرهېز به يې مات نه شي چې لکه تور چې خپلو فتواګانو اخستلو ته ارشول دوی هم بيا ارشی ! !

دا دسياست ميدان دی او په سياست کی خو طبيعی ده چې هيڅ خبره ووستی او ورومبی ګڼل نه دی په کـار دوی بايد د کابل اداری له فتواګانو نه عبرت اخستی وای دهغو فتواګانو انجام څـه شـو ؟ دسياست په کرېلچونو کی ډېری داسی حادثی راشی چې په فورمول، اوچوکاټ کی نه راځی. طالبان که سياست کوی نو په دی رنګ په څانونه رنګوی ،بيا خو له "شريعت " سره انصاف په کاردی .

زمونږ داستـاد ربانی له مرګ او ژوند سره څـه سراوکارنشته چې خدای (ج) وژلی وی وژل کېږی به چې د خدای (ج) اراده؟ دچا په ژوند وی ژوندی به وی کـه يې هرڅو انسانان دمرګ هيله من اوارزومن وی . دا د خدای (ج) نظام دی له ازله په همدی دول راچليدلی دی اوهمدغسې به وی.

زمونږ زړه په هغه " شريعت " دردېږی چې ډېر يې د " سيادت " او"سعادت" په تخشرلو کښېنول خو اوس ورسره ديوی شخصی متاع معامله کيږی ، زمونږ پردی باوردی چې افغان اولس په دهمدغه جنګی مجرمينو - واجب القتل او په شرعی فتواګانو محکومو خلکو تر تګين لاندی وی ،همدوی به يې باداران اوواکداران وی . همدوی به يې اداره کـوی کـيدای شي خـبرې او يـنې يې بدلی شی خـو دغه "صنعت " به په تولو کی مشترك وی . په اولس کی به دمرګونو او وژنو لړی هم دوام لری ، بنی په شـورادوزوږ به روانی وی . فتواګانی به هم يو پربل ورکول کيږی او دواجب القتل ! او جنګی مجرم تورونه به هم يو پر بل لګيږی ، خو په دی لويه کی به پريکړی يواځی دمظلوم اولس پرسرعملی کيږی دهرقاتل دجرم سزا به دوی ګالی ، دهر مقتـول دوينی پور به پخپله دمقتـول وارثان ورکوی .

څکه چې زمونږ داقتدار خاوندان همدا غـواړی کـه د اولس د دردونو حل اوله روانی تراژيدی نه دوتلو لار چا غـوښتی هغه خو يو پر بل دفتواګانو لار نه ده !!!

انسحاب دوم روسها

> ## تذکر
> فرمان بوريس يلتسين رئيس جمهور فدراسيون روسيه مبني بـر انسحاب وعقب نشيني قـواي متجاوز روسيه ازجمهوريت مستقـل اسلامي چيچن ، موضوع بحث سـرمقالـه» روزسه شنبه» روزنامه» انگليسي زبان نيوز انترنيشنل بود .
> ذيلاً ترجمه» دري آن جهت معلومات خوانندگان عزيزه شهادت» تقديم ميګردد.
> حامد

پريزدنت بوريس يلتسن رئيـس فدراسيون روسيه دستورداد که همه، قواي روس از دولت جداشده، چيچن انسحاب کنند. اين انسحاب و عقب نشيني به مانند انسحاب وعقـب نشيني قواي اتحادشوروي ازافغانستان تلقي ميشود. اين اقدام بخشي ازطرح بزرك صلحي است که يلتسين به منظور بازګشت به وضعيت عادي درچيچن ارائه کرده است که به باتلاقي براي قواي روس مبدل ګرديده بود . متعاقب خـروج مرحله اي قواي روس، مذاکرات بـه منظور رفع موانع درمسئله» چيچن آغازخواهد شد .

يعني اينکه مسکو چاره اي ندارد جزاينکه باچريـکان چيچن به مذاکره بنشيند چريکاني کـه درمدت پانزده ماه جنګ خـونين ، مقـامات مسکو آنانرا تروريست (دهشت افگن) وخائن خوانده اند. همچنان مسکومجبور خواهد بودکه رهبر چيچن يعني جوهر دودايف را که رهبري جنبش جدايي طلب ،ابعهده داشته است، بعنوان يك شخصيت سياسي اي بپذيرد کـه دريك راه حـل دوامدار معضله،نتوان اورا ازنظر دورانداخت . يلتسين مسئله چيچن را «مشکلترين معضله» روسيه» خوانده است .

اين امر ميتواند يك پوانت بزرګ منفي براي يلتسن باشدکه درآستانه» انتخابات رياست جمهوري ازقرات سياسي وي کاسته ميشود. ګرچه شايد روسها ملاحظات زيادي درارابطه جنګ مستمر درچيچن داشته باشند ، اينك قطعاً اين سوال رامطرح خواهند ګردانيد، که هرګاه روزي مجبور ميشديم کـه قواي خودرا بيرون بياوريم ، چرااين همـه خون ريخته شدوچرا آنهمه عسکرروس قرباني شد؟ امـا، شکي نيست کـه يلتسين اوضاع رابګونه» ديګرمي بيند . وي معتقداست انسحاب قواي روس به مراتب نزديکتراست تااينکه آنان را براي مدتي نامعيني درآنجا نګهدارند، که جز خشم عمومي وشرمندګي وفشارمتزايدبين المللي ، حاصلي نخواهد داشت .

اين اقدام رئيس جمهورروسيه ، يك عملکردمنطقي است ،ولي مسئله را بصورت حل نخواهد کرد. اما، قطعاً خونريزي مردم بيګناه، راکه دربالغ بريك ونيم سال ادامه داشت ،قطع خواهدکرد . مسئله غيرازين نخواهد بود. زيرا جدايي طلبان چيچن مدتهاقبل اعلام کرده اند که چيزي کمتراز استقلال کامل براي آنان قابل قبول نخواهد بود. مشکل است که بتوان ميزان حمـايت افکار عامه ازنظريه، استقلال چيچـن راتخـمين زد، ولي بادرنظرداشت اينکه چيچن هاپارجنګي رابرآنان تحميل شده بود، تحمل کردند ، ميتوان حدس زد که احساسات عامه عليه روسيه خواهد بود.

اينکه يلتسين چه نوع امتيازاتي به افراد دودايف قائل خـواهد شد تادر فدراسيون روسيه باقي بمانند، مشخص نيست . اين مسئله نيز مشخص نيست که آيا آنچه يلتسين به آنان اعطاميکند ، ميتواند براي کساني قابل قبول باشدکه دريك جنګ داراي سي هزار کشته درګير بوده اند .

نتيجه کاملاً واضح است اينست که حتي مدتها پـس از عودت قواي روس ازچيچن، براي يلتسين آسان نخواهدبودکه خودرا ازباتلاق چيچن بيرون بکشد .

د حاجيانو له پاره روښانه ډيوه

لنډ مګر مکمل معلومات

ژباړه او لنډيز محمد خليل — لومړی برخه

دحج حکم او فرایض یی

حج په ټول عمر کی یو وار فرض دی ، داد اسلام داسی یو معتبر رکن دی چی په انکار یی سړی دکفر حد ته رسیږی . پر هغه چاچی حج فرض شوی وی او ادا یی نکړی هغه فاسق او ګنهکاردی ، حج پرهغه مسلمان فرض دی چی غنی وی او د تګ را تګ پیسی ور سره وی ،عاقل ، بالغ او صحتمند وی ، شل ،ګوډ او داسی ناروغ نه وی چی د حج فرائض ، واجبات اوسنن اداء نه کړای شی . لاندی موږ د حاجیانو له پاره د حج کولو طریقه ، فرائض ، واجبات ، سنن ،مستحبات او مکروهات بیانوو ، هیله ده چی محترم حاجیان ددی لحاظ وساتی او په ذهن کی یی کیښنوی ځکه چی ددغو شیانو له ادا کولو نه پرته حج نه سمی کیږی او حتی یی ځایه تاوان دی .

لومړی -دحج فرائض :

په حج کی دری شیان فرض دی ،احرام تړل -دعرفات پر میدان ودریدل -طواف زیارت کول ؛له دغو دریو فرائضو نه علاوه خونور شرطونه هم شته که ددغو شرطونو خیال ونه ساتل شی نو فرائض نه ادا کیږی ، شرایط یی دادی لومړی ترتیب ؛یعنی ددغودریواړو فرضونو دادا کولو د ترتیب خیال ساتل ضروری دی ، دمثال په توګه ،لومړی باید احرام وتړل شی بیا دی په عرفات کی قیام (وقوف) وشی په دریم نمبر کی دی طواف زیارت وکړی شی ،باید د وختونو خیال هم وساتل شی یعنی ددغو پورتنیو یاد شووفرائضو داداکولو له پاره چی کوم وختونه ښودل شوی دی په همغو وختونوکی دی ادا کړل شی ،د مثال په توګه د حج په ورځو کی حج کول ، په میقات کی احرام تړل ،دذوالحجه په نهم تاریخ په عرفات کی ودریدل ، په لسم دذوالحجه مزدلفی ته تلل ،بیا رمی (ویشتل) کول له دی نه وروسته بیا طواف زیارت کول .که چیری ددغوخبرو خیال ونه ساتل شی ، حج نه سمی کیږی ،همداراز باید دحج هر رکن په هغه ځای کی ادا کړی شی چی اسلام ورته مقرر کړی دی .

دحج واجبات :

په حج کی دغه لاندی شیان واجب دی

١-دذوالحجی په لسمه شپه په مزدلفه کی اوسیدل .

٢-رمی ،یعنی جمرة العقبه په ګلتو ویشتل .

٣- سعی ، یعنی دصفا او مروی تر منځ منډه کول.

٤- حلق یا تقصیر،یعنی له رمی نه وروسته خپل ویښتان کلول یا لنډول خو د ښځو له پاره دلو غوندی ویښتانو اخیستل بس دی .

٥-طواف صدر کول یعنی له نوروهیوادونو څخه چی حاجیان کله رخصتیږی نو هغوی دی د کعبی طواف وکړی ،دی ته ذوداع (رخصتی)طواف هم وایی.

داحرام تړلو طریقه :

احرام تړل فرض دی ،حاجیانو ته پکاردی چی میقات ته له رسیدونه وړاندی داحرام تړلو تیاری شروع کړی ،کله چی میقات ته ورسیږی نو احرام دی وتړی او که چا میقات ته له رسیدونه مخکی احرام تړلی ؤ دا هم جایز دی خو که څوك له میقات نه تیر شی او احرام یی نه وی تړلی نو دی د مکروه تحریمی ګناه مرتکب وګرځید،پکار دی چی مکی شریفی ته له داخلیدو مخکی احرام خامخا وتړی .

داحرام تړلو مسنونه طریقه

١-داحرام له تړلو نه مخکی پکاردی چی ویښتان اصلاح شی ،نوکان دی واخیستلی شی دبغلونو (تخرګونو) او نامه لاندی ویښتان دی کل کړل شی ،بیا دی پوره غسل وکړی عطر یا کومه بله خوشبویی دی ولګوی اوکه کومه ښځه له حیض یا نفاس نه پاکه شوی وی پر هغی غسل واجب دی .

٢-له غسل نه د فارغیدونه وروسته نارینه حاجیانوته پکاردی چی خپلی جامی وباسی او د حج مخصوصی جامی واچوی دا کالی باید نوی او سپین وی که نوی نه وی نو لږترلږه مینځل شوی دی خامخا وی

٣-له احرام تړلونه وروسته دی باید په پوره خشوع اوخضوع دوه رکعته نفل لمونځ ادا کړی خو چی مکروه وختونه ،نه وی .

٤-د نفل لمونځ له فارغیدونه وروسته دی حاجی د حج نیت وکړی .

دحج لپاره د نیت تړلو طریقه :

دحج نیت باید داسی وکړی شی :اللهم انی اریدالحج فیسره لی وتقبله منی نویت الحج مخلصاًلله تعالی ،یعنی ای الله زه د حج اراده کوم زما لپاره یی اسانه کړی اوقبول یی کړی ،ما دحج اراده خاص دالله لپاره کړی ده و که دعمری نیت ؤ نو حج پرځای دی د عمری لفظ استعمال کړی ، که د قران یعنی دحج او عمری اراده وه نو دداوړو نیت دی وکړی .»

تلبیه :

له نیت نه وروسته دی متصل په لوړ آواز تلبیه شروع کړی اوتر هغه دی تلبیه جاری وساتی چی تر څو د ذوالحجی په لسم تاریخ د جمری عقبه له ویشتلو نه ، نه وی فارغ شوی ،دتلبیی الفاظ په لاندی ډول دی :

لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ ، لَبَّيْكَ لاَشَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ ، اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لاَشَرِيْكَ لَكَ » - بخاری ومسلم .

دښځو لپاره د احرام تړلو طریقه :

ښځی حاجیانی هم باید په همغو آدابوسره احرام وتړی کوم چی دنارینه حاجیانو له پاره ضروری دی لیکن دری شیان داسی دی چی نارینه او ښځو حاجیانو ترمنځ فرق یی ضروری دی ١- ښځی باید همغسی ګنډلی جامی واغوندی څرنګه چی مخکی یی اغوستلی .

٢-ښځی حاجیانی باید خپل سرونه پټ کړی او بالکل دی نه ښکاره کړی همدا شان له نا محرم سړی نه دی خپل مخ هم پټ کړی ، په داسی طریقه چی پرده له مخ نه لیری وی او له مخ سره نښتی نه وی .

٣-ښځی حاجیانی باید تلبیه په ورو آواز سره ووایی چی آواز یی نا محرم غوږونه ونه رسيږي .

له احرام نه وروسته ممنوع شيان:

داحرام له تړلو نه وروسته دغه شيان پر حاجي حراميږي :جنګ او جدل -دروغ ويل - غيبت کول -پر چا تهمت لګول - بکنځلي او فحش ويل ،قهر او غصه کول ، دا کارونه اګر څه تر وخت پر مسلمان حرام دي خو د حج په وخت کي يي ګناه ډيره زياته ده -ښکار کول ،دبدن دکومي برخي ويښتان کمول يا کلول ،د نوکانو پرې کول -پټکي يا خولي په سر کول او مسوږي په پښو کول -ګنډلي جامي اغوستل اوخوشبويي لګول يا د خښبو داروتيلواستعمالول-له ښځي سره نژدې کيدل يا دخونداو محبت خبري کول .

که څوك له دغو پورتنيو ياد شوو خيروڅخه ځان ونه ساتي قصداً او يا سهواً تريئه صادر شي نو پکار ده چي کفاره يي ور کړي ، دکفاري تفصيل په لاندي ډول دی:

١ - دښکار کفاره :څوك چي ښکار وکړي يا ښکاري ته څه وښيي او مشوره ورکړي يا د حلالولو له پاره چاقو اوچاړه ورکړي يا کارتوس او ټوپك ورکړي ،نو پر هغه يوه قرباني واجب ګرځي .

٢- د ويښتانو کلولو يا کمولو کفاره :که دسر ، ږيري يا برېتو څلورمه برخه يا له دي نه زيات کم کړي نو يوه قرباني ورباندي واجبيږي ،که چا دتخرګو يا دنامه لاندي ويښتان واخيستل نو پر هغه هم يوه قرباني واجبيږي ، که د اودس ، ګرولو او لمنځ کولوپه وخت کي ويښتان تويې شي دهغه له پاره څه صدقه ورکول کافي دی .

٣-دنوکانو د پرې کولو کفاره : که چا ديو لاس او يا دواړو لاسو اوپښو نوکان په يو وخت پرې کړل پر هغه يوه قرباني واجبيږي ،او که په دوو وختونو يعني دلاسونو يوه ورځ او دپښو بله ورځ پرې کړي نو بيا دوه قرباني ورباندي واجبيږي .

٤-دګنډل شووجامو اغوستلو کفاره : که کوم حاجي ټوله ورځ ګنډل شوي کالي يعني پرټوګ،کميس ،کرتي ،واسکټ ،جاکټ يا کوم بل ګنډل شوي شي واغوندي ،پرهغه قرباني واجب ده ،همداراز که کوم حاجي سر ، مخ ،خولي ،بزه ، لاس او پښي له شر پرته ديري دڅيتي لپاره هم پټ کړل نو ګناه يي وکړه او که ټوله ورځ يي پټ وساتل نو قرباني ور باندي واجبيږي ،خو که دلي وخت لپاره يي داسي وکړل نو صدقه دي ور کړي :که څوك دناروغي په وجه ګنډلي کالي واغوندي يا خپل مخ پټ کړي او سر وتړي نو بيا هم قرباني ورباندي واجبيږي .

